# ما له عايشې (رضي الله عنها) څخه وپوښتل: «ولې حایضه ښځه د روژې قضا راوړي او د لمانځه قضا نه راوړي؟

د معاذة (رضي الله عنها) نه روایت دی وايي: ما له عایشې (رضي الله عنها) څخه وپوښتل: «ولې حایضه ښځه د روژې قضا راوړي او د لمانځه قضا نه راوړي؟ هغې وویل: آیا ته له حروریانو څخه یې؟ ما وویل: «نه، زه له حروریانو څخه نه یم، خو پوښتنه کوم، وايي: موږ به حیض کېدو نو، د روژې د قضا راوړلو امر به راته کېده او د لمانځه د قضا راوړلو امر به راته نه کېده.
[صحيح دی] [متفق علیه دی]

معاذة العدوية له عائشې رضي الله عنها څخه وپوښتل، نو ویې ویل: چې ولې حایضه ښځه د روژې قضا راوړي، خو د لمانځه قضا نه راوړي؟ هغې ورته وویل: ایا ته د حروري له خوارجو څخه یې؛ هغوی چې د سختۍ او سختګیرۍ لپاره ډېرې پوښتنې کوي؟ ما وویل: زه حروریه نه یم، خو یوازې پوښتنه کوم، هغې وویل: کله چې موږ د پیغمبر ﷺ په وخت کې حیض کېدو، نو موږ ته به ویل کېدل چې د روژې قضايي راوړو، خو د لمانځه په قضايي راوړلو به راته امر نه کېده.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3449

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee